# متلونه زموږ د اولسونو ارزښتناک،ویاړلي ادبي او فرهنګي میراث



متلونه زموږ د ولسونو  ارزښتناک،ویاړلي ادبي او فرهنګي میراث:

*****************************************

متلونه او نقلونه د پښتو ژبې په شفاهي اولسي ادب یا فولکلور کې یوه غوره او په زړه پورې برخه ده، چې په لنډو خوندوروجملو، پاکو اوسپیڅلو وېناوو، افکارو او خوږو

الفاظو او حکمتونو کې د پښتنې او انساني ژوند مختلفو اړخونو ته په ډېر عالي او جامعې ډول د عوامو خلکو په ژبه یومطلب او موضوع په ډېر بلاغت اوفصاحت تشریح او توضیح  شوی دی ، تر څو اوریدونکي اولوستونکي وکولای شي ترینه پوهه او خپل هدف او مقصدتر لاسه کړي.

متلونه  دهرې ژبې یوه لویه او خوندوره ادبي برخه ده، او د پښتو د ژبې یوه بډایه زیرمه او شتمني ده . متلونه د اولسي ادب په بڼ کې د عوامو وګړو ږغ دی ، چې په اولسي خبرواترو کې د پاخه او قوي استدلال، منطق او کلام ښکلا په کې نغښتې ده ، او هر متل ځانته یو ټاکلي پیغام لري، او ستونزمنواو کړکیچنوحالاتو ته داسی لاره غوره کوي،

چې د خلکو لپاره د قناعت او منلو وړ وي او څوک د شک او تردید په ګمان ورته و نه

ګوري .همدا وجه ده چې متلونه د اولسي  او ټولنیزو د تجربو له عمله جوړ شوې دي او په عمل کې تطبیق شوي دي چې شمیر یې خورا زیات دي.

اروابناد عبدالروف بینوا چې زموږ په ټولنه کې یو نامتولیکوال ، وتلې شاعر او

پیژندل شوې ادبي او فرهنګي شخصیت دی، د پښتو متلونو په اړه په خپله یوه لیکنه کې داسی وایي:

(متلونه د اولسي ادب په بڼ کې یوه په زړه پورې برخه تشکیلوي چې د یوه نسل نه بل نسل ته، دیوه اولس نه بل اولس ته ور باندې افکار ، کلتوراو دودونه د هماغه اولس د عامه ذهنیت په متلي شوي چوکاټ کې لیږدول کیږي.)

په ربنتیا سره متلونه زموږ د ټولني او اولسونو هغه ارزښتناکي با مفهومه ساده وېناوې

دي چې دلنديو په شان د مضمون ، شکل او موضوع له پلوه ډیر غني او ځانګړې پیغام ، مقصد او مطلب لري او د خلکو په منځ کې په خپل وخت او زمان کې د یوې خولې نه بلې خولې ته د ادبیاتو د تاریخ په پاڼو کې تر ننه پورې رسیدلي دي، تاریخ او ویونکي يې معلوم نه دي .په متلونو کې د یو قوم او ولس فرهنګ او کلتور، دودونه، علم او پوهه، تجربه او د لوړوفکري اړتیاوو اندازه معلومیږي، همدا وجه ده چې متلونه هغه په زړه پورې او پخې وېناوې دي، چې اولسونو له ډیرو اوږدو تجربو وروسته تر لاسه کړې دي.

اروابناد دوست شینواری چې یو نامتواو پیاوړی لیکوال دی د پښتو متل د مفهوم او شکل په برخه کې داسی وایي :

(دمتل بلاغت او فصاحت پدې کې دی چې د فورم له مخې ساده او عام فهمه او د افادې له پلوه په هدف رسا او سم لګیږي.)

دبیلګې په تو ګه دا متل ګورو:

(که غر جګ دی په سر يې لاره ده)

دا متل خلکو ته لار ښوونه کوي چې ای انسانه د کبر او بی ځایه غرور او ځان غوښتنې نه ځان وژغوره. دانسان لپاره تواضع، فروتني، زغم اوبرده باري لوی صفت دی.زما په آندهر څوک په دی خبرو باندې قناعت کوي اوخپلونیمګړتیاووته پاملرنه کوي.

د متلونو ویونکي په ټولنه کې داجتماعي او انساني عملي ژوند اوتفکرهر اړخيز تصویرونه دخپلي پوهي او حکمت په وسیله په لنډو ګټورو او خوندوروجملو او الفاظو کې د خپلو تیروتجربو اوازمیښتونودلاسته راوړنوپه نتیجه کې زموږ او نورو خلکو مخکې ایښي دي.

ما یو شمیر متلونه د انځوریز په شکل ترتیب کړې دي ستاسو د ادب مینه والو پام ورته را اړوم.

په درنښت او ادبي مینه : انجنیرعبدالقادرمسعود



ځینې غوره شوي پښتو متلونه:

********************

اول سلام پسې کلام.
ادب له بې ادبه زده کیږي.
ادب له بې ادبه زده کوه !
ابا مه گوری ، خورجین ئې گوری .
ازمویلی ځوک نه ازمویی.
اصیل خطا نه لري ، کم اصل وفا نه لري.
اصیل په جنده کالو کې هم معلومیږي.
اصیل نه ورکیږي.
اصیل ته اشارت کم اصل ته کوتک .
انسان تابع د احسان دی.
انسان له ختا سره ملگری دی .
انسان تر کاڼي کلک تر گل نازک دی.
انسان نه دی ، هغه چې د حیوان څخه گیله کوي.
انسان ته خبره خره ته لرگئ.
ترتیب کوونکی: عبدالقادرمسعود

## ځينې غوره شوي پښتو متلونه:

********************

اشنايي د شگو مزل دی.

اوبه د جام له مخې څنبل کېږي.

ارزانه بې علته نه وي گران بې حکمته.

آموخته خور ښه دی که ميراث خور؟ ويل اموخته خور.

اوبه چې وي تيمم ته څه حاجت دی.

اوبه د سره څخه خړې دي!

اوبه چې څومره زور لري، ځمکه ورته سور لري.

اوبه په ډانگ نه بېلېږي.

اوبه چې تر سر تيرې شي، څه يوه نيزه څه دوې نيزې!

اوبه چې تر سرجگې شي څه يوه نيزه څه دوې نيزې.

اوبه په اوبو، شيدې په شيدو!

اور ته خپل او پردی يو دی.

اور له خپلې لمنې لگېږي.

اوربشې څه په ځمکه کې څه په جوال کې؟

اور ته چې نږدې کيږي خامخا سوزيږي.



ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود

## ځينې غوره شوي پښتو متلونه:

********************

اور او پنبه نه سره يو ځای کيږي.

اوړه په اوړه، منت ئې پر څه؟

اوسپنه په اوسپنه ماتيږي.

اوسپنه چې څومره ټکول کيږي هومره کلکيږي.

اوښان نه ژاړي بارونه ژاړي.

اوښ ته ئې ويل دا مغزی دې ولې کوږ دی؟ ده ويل کوم ځای مې سم دی.

اول ځان پسې جهان.

اول حق د گاونډي دی.

اول سوچ کوه بيا خبره کوه.

اول زده کړه، بيا کوزده کړه.

انسان له ختا سره ملگری دی.

انسان له سهوې خالي نه دی.

انسان ته انسانيت ضرور دی.

انسان په يوه ورځ پيدا په يوه ورځ به مري.

انسان زاړيږي حرص يې ځوانيږي.



ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود

## ځيني غوره شوي پښتو متلونه:

*********************

اعتبار په علم او ادب ده، نه په مال او نسب.

اوله سودا بيا نه پيدا کيږی.

اول فيل خانه جوړه کړه بيا فيل واخله.

اوبهٔ هم د لوښي پر مخ څښلي کېږي.

اسمان ليري ، ځمکه سخته.

احتياط ښه دی په هر کار کې تلوار مکوه.

ارزانه بې علته نه وي ګران بې حکمته.

اشنا ! انګور چې نه خورې داسې خو مه وايه چه ترش دي.

اموخته خور ښه دی که ميراث خور ؟ ويل اموخته خور.

بد بوټی بلا نه وهي.

باغ که باغوان لري ، چغال هم خدای لري.

باغ چې پوخ شي باغوان کوږ شي.

بخت چې کوټه شي پاچاهان ټکري خوري.

بخت په ټنده دی نه په منډه.

بد بانجڼ افت نه لري.

بد په سلام نه ورکيږي.



ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## ځيني غوره شوي پښتو متلونه:

*********************

بد به دې په زړه لرم سلام به دې په خوله.

بد تربور په بده ورځ پکار يږي.

بد تربور په بد ځای کې په کاريږي.

برج دې تر اسمانه ، سپي دې له لوږې مري.

وزه له لېوه تښتېده پر قصاب واوښته۰

برخې تولې ازلي دي نه په زور نه په سيالي دي.

بشره د انسان خوی د شيطان.

بلا بيده ښه وي نه ويښه.

بل ته کوهي مه کينه ، چې خپله پکښې لوېږې.

بې زحمته راحت نشته.

بېزاره دې له خيره يم ، سپي دې در ګرځوه.

بې ښځې سړی ښه دی نه په کور کې همېش جنګ.

بې عقل دونه په بل نه کوي لکه په ځان.

بې چرګه به هم سبا شي.

بيړه د شيطان کار دی.

بازخانه له بازه نه خالي کېږي.



ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## ځینې غوره شوي پښتو متلونه:

❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋

بې عمله علم ،د بې مېوې ونې په څېر وي.
بې قامه مقام نشته.
برابر مه شې پر کور د نامردانو.
بیړه د شیطان کار دی.
بلاوه وه خو برکت یې نه و.
بل ته چې ګوته نیسې ُ ځانته دری ګوتې نیول کیږي.
پاک اوسه بې باک اوسه.
پټه خوله د مرکې لیوه دی.
پردی خر په شا زوروردی.
پردی اور تر واوري سوړ دی.
پردی زوی نه زوی کیږي.
پردی سپی په ډوډی خپل.
پردی کټ تر نیمو شپو وي.
پردی مور نه مور کیږي.
پر ښو تلوار پر بدو تأمل.
پر ګازره نه یم پر خرپ ئې یم.



ترتیب کوونکی: عبدالقادرمسعود

## ځینې غوره شوي پښتو متلونه:

❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋

پر لڅه خېټه ئې ملا تړلې ده.
پر لوړه وخیژه ځار وکړه ، خلک چې کړي هغه کار وکړه.
پر یوه باندې چې دوه شي ، ړنا ورځ وربانديې شپه شي.
پړ مې که ، مړ مې که.
پښتون نه دی چې د نوک ځواب سوک ورنه کړي.
پښتون له غیرته ځان اور ته اچوي.
پښې هلته ځي چې زړه ځي.
پک تر پک پورې ، نو نه چې ماغزه ئې ښکاره وي.
پند ئې مه ګوره، ایمان ئې ګوره.
پنځه ګوتې سره یو نه دي.
په اور چې لو بیږیي نو سوزیږی.
پور چې تر سلو تېر شو ، وچه مه خوره.
پنځه ګوتې په خوله نه ننوزي.
پوه سړی تر خپلې کمبلې پښې نه تېروي.
په اوبو ځوک نه چاغیږي.
په بازیو کې تل بنګړي ماتیږي



ترتیب کوونکی: عبدالقادرمسعود

## ځيني غوره شوي پښتو متلونه:

********************

په ژوند کښې چا پر خره سپور نه دی ليدلی د بل په اسونو پورې به خاندي.
په بدلو ځوک نه لويږي.
په بل وطن کې د ښو کښت کوه تېرېږه.
په پردي کور کې سل مېلمانه هيڅ نه دي.
په تياره کې خپل سپوری هم نه ښکارېږي.
په ځاځکي ځاځکي ډنډ جوړيږي.
په خپلو خپل ، په پردو پردی.
په خپله کوځه کې سپی هم زمری وي.
په خندا پسې ژړا ده ، په ژړا پسې خندا ده.
په خواره ځمکه کې هر وابنه شين کيږي.
په دنيا باور مه کوه ، ګاهې لوړ ده ګاهې ځوړ.
په درنو دروند په سپکو سپک.
پوره ورک دې کړه دوه کوره.
په ډيری کې خوره ، په لږ کې وېشه.
په زحمت پسې راحت دی.
په زهيرو زړو ګوتې مه واهه.
په ژرنده کې دې شپه شه د زوم کره دې مه شه.
په سپکو سپکتيا ، په درنو دروند تيا.



ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود


ځيني غوره شوي پښتو متلونه:


********************

پر ښو تلوار پر بدو تامل.
په سپين سر ، مزل پر سر.
په مځکه کې سيوری نه لري ، په اسمان کې ستوری.
په نن پسې سبا شته.
په وهلو ځوک نه سمېږي.
په هر شي کې ښه او بد شته.
په هغه وياله کې چې اوبه تللي وي بيا به راسي.
په يوه چپلاخه د سلو مخ خوږيږي.
په يوه ګل نه پسرلی کيږي.
په يوه ځين کې دوه کسه نه ځائيږي.
په يوه لاس کې دوه هندوانې نه اخستل کيږي.
پياز دې وي په نياز دې وي.
پير که خس وي ، د مُريد بس وي.
پير نه الوزي مُريد ئې الوزي.
پردي خواږه يا پور دی يا پيغور.
په جنګ کې الوا نه ويشل کيږي.
پخپله خر نه لري د بل په آس خاندي.
په ډيرو ړندو کې يو سترګی پا چا وي.




ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## ځينې غوره شوې پښتو متلونه :

**********************



په دوو سترګو ځان ويني په يوه سترګه جهان.

په شرم هغه شر ميږي چې پرې پو هيږي.

په يو کتاب څوک نۀ مُلا کيږي.

په خپله مې مُلا کړې ځان ته مې بلا کړې.

په نيستۍ کي سستې او په هستۍ کې مستې مه کوه.

په يوه ګل نه پسرلی کيږي.

په يو څپيړه دوه مخونه خوړ يږي .

پړ مې کړه ، مړ مې کړه.

پته خوله اقرار دی.

په پردي کار کې کار مه لره.

په سپينه جامه تور داغ د لرې نه ښکاري.

ميړه په خواري بد نه ښکاري.

ترتيب کوونکی : انجنير عبد القادر مسعود

## ځينې غوره شوې پښتو متلونه :

**********************



په لمر يی ګټه په سيوري يې خوره.

په غلبيل کې اوبه نه راوړلې کيږي.

په حلوا ، حلوا ويلو خله نه خوږيږي.

پلار ګټلې پر زوی اسانه دي.

پښتون سل کاله وروسته بدل واخيست ويل يې تلوار مې وکړ.

پۀ تيارۀ کې هرڅوک ډاريږي ، څوک نارې وهي ، څوک يې نه !

تازيان چې هوسۍ وهي د هغو خولې توري وي.

تربور ته بې وروره مه سپ ، ورور ته بې زويه ، پلار ته بې موره.

تر بې عقل خپل ، هوښيار دښمن ښه دی.

تر بې عقله دوست هوښيار دښمن ښه دی.

تر بيکاره کښېنستل لور زيږول ښه دي.

تللی وخت بيرته په لاس نه راځي.

ټول عالم غنم کري زما لالی وريشی، لاليه سترې مه شې.

ټينګ عزم غرونه ماتوي.

تر پردی زوی خپله لور ښه ده.

ترتيب کوونکی : انجنير عبد القادر مسعود

## ځيني غوره شوي پښتو متلونه:

********************

ترنا صالحه اولاده نيستي يې ښه ده.
تر څو رښتيا راځي دروا غو به کلی وران کړی وی.
تر پښو لاندي مځکه مه ګوره ، ليري واټن ګوره.
تور بانجان بلا نه وهي.
تر پراته زمري ګرځنده ګيدړه ښه ده.
ترکاڼي دبيزو کار نه ده.
تر بې کاري بې ګاري ښه ده.
تر تياره برخه مه تېرېږه.
تر خوړلي لا اميد ښه دی.
تر رمې ئې سپي ډير دي.
تر مړه زمري ، ژوندی ګيدړ ښه دی.
تر ناپوه دوست ، هوښيار دوښمن ښه دی.
ته زما دارو ، او زه ستا دارو !
تربور مړ کړه ، لمر ته يې مه اچوه.
تشه لاسه ته مې دښمن يې .
تقدير په تدبير نه بدلېږي.



ترتيب کوونکی : انجنير عبد القادر مسعود

## ځيني غوره شوي پښتو متلونه:

تير په هير.
جنت دمور او پلار تر پښو لاندې دی.
جاهلانو ته د علم خبرې مه کوه.
جامه چې دپور شي په ځان اور شي.
جنګ په وسله ، تنګ په غله.
جنګ پر خاوره ښه دی ، نه پر شپډ ياره.
جنګ جنګي کوي ، تنګ تنګي.
څيراغ چې ئې په کور کې لګيږي و صحرا ته څه حاجت
دی.
څوک چې لاس درپورې بند کي مه ئې غوڅه وه.
څوک مه واهه په ګوته ، تا به نه ولي په لوټه.
څوک وائې چې زما د غړيکې خوند بد دی.
څه ژرنده پخه وه ، څه غنم لانده وه.
څۀ چې کرې هغه به رېبې.
څنګه حال دی؟ د دوو ښځو د خاوند نه ښه يم.
ځنګل چې اور اخلي وچ او لانده ګرده اور اخلي.
ځمکه هغه سوځي چې اور پرې بلېږي.



ترتيب کوونکی : انجنير عبد القادر مسعود

## ځينې غوره شوي پښتو متلونه:

څمکه هلته توده وي چه اور پری بل وي.
ځواني يوه نشه وي، داسې نه چې همېشه وي.
ځان ته ګوره بيا نو شوره.
ځان ځانی خپله خواري.
ځانه ځانه تر هر چا ګرانه.
چا په کلي کي نه پرېښو، ده ويل اس مو د ملک کره وتړئ.
چاپه قافله کې نه پرېښو، ده ويل د مخ اوښ زما دی.
چاړه چې د سرو زرو شي، څوک ئې په نس کې نه و هي.
چرت ئې واهه خورجين ئې بايلو.
چرګه مې ناجوړه ده بهانه مې ورته جوړه ده.
چرګ د مالګې په څکلو څه پو هيږي.
چي بخت ئې تور شي دښمن ئې د پلار کور شي.
چه زما په ډوډی مست شي هغه زما دمور ميړه شي.
چه ستړی نه شی موړ به نه شی.
چه کری هغه به ريبی.
چه د خدايه پټه نه ده د بندګانو يې څه له پټوی.



ترتيب کوونکی: انجنير عبد القادر مسعود

## ځينې غوره شوي پښتو متلونه:

چه مربي لری مربا خوره.
چه مرګ ووينې په تبه رضا شي.
چه وخت تير شي نو هر څه هير شي.
چيرې کلاله ګوره خو خپله سياله ګوره.
چې بد ګرځي، بد به پرزي.
چې بد کوي، بد به مومي.
چې غل نه ئې د پاچا نه مه ببربږه.
چې بد غواړي، پر بدو به واوړي.
چې په ناز لويږي، په زيار زړيږي.
چې په آسانه يې ګټي په آسانه يې بايلي.
چې پيل ساتي پيلخانې به جوړوي.
چي په مرګ ئې ونيسې، په تبه به راضي شي.
چې جنګ سوړشو ميری تود شو.
چې په ډله کې دوست نه وي، مه پکښې کښېنه.
چې تېرشو، هغه هېر شو.
چې سړی زړيږي حرص زياتيږي.



ترتيب کوونکی: انجنير عبد القادر مسعود